مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولی عبدالله

۲۰۲۱/۰۷/۲۲

# پاچاهي

پخوا باچا د زړه حبيب د رنځ طبيب ؤ خلکو
خپله بزگر خپله لوگر خپله خطيب ؤ خلکو

پخوا باچا د بودۍ تال ـ په هنرونو سمبال
خپله رباب خپله کتاب خپله اديب ؤ خلکو

پخوا باچا په سپينه ږيره ؤ تړلی دستار
خپله گفتار خپله کردار يو عندليب[۱] ؤ خلکو

اوس له باچا نه د سپين سترگو سترگې نه سو څيږي
پخوا رهبر لکه خنجر لکه لهيب[۲] ؤ خلکو

اوس تر باچا نه دي چاپيره کرايي عالمان
پخوا به هر وزير حسيب[۳] خپله نقيب[۴] و خلکو

ولی عبدالله

---

۱ ـ عندليب: د شپي نغمه ـ هزاردستان
۲ ـ لهيب: له لوگي څخه پرته د اور شعله
۳ ـ حسيب: لکه زوی
۴ ـ نقيب : مخکښ



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په څير و لولئ